AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نجیب الله پتمن ۲۰۲۳/۰۹/۰۵

# ملي شتمني (عامه ملکیت) څه شی دی؟

" تعصب د موږکانو په څیر دي، او د سریو ذهنونه د تلکو په څیر دي، تعصب په اسانی سره ذهن ته دننه کیږي، مګر دا شکمنه ده چي دوی کله هم بیرته وتلي شي ."
فرانسیس جیفري

افغانانو راځئ نور له تعصبه ډډه وکړو !
زموږ بي وزله ولس پنځه ځلویښت کلونو را پدیخوا د دلو او د هغو مشرانو له رانده تعصبه کړیږي

عامه ملکیت( بیت المال ) هغه ملکیت او غیر منقوله شتمني دی چي د یو هیواد د ټولو وګړو ګډ ملکیت دی، په عم ومي توګه د ملي شتمنی د ساتلو مسولیت او د پلورلو واک د هغه حکومت مسولیت دی چي د خلکو له لخوا ټاکل شوی وي . ددی معنی دا دی چي حکومت د خلکو له استازو څخه جوړ شوی وي ، خلک د ملي شتمنی څیښتنان دي چي حکومت ته دا ملي پانګه د پاملرني او ساتني لپاره د امانت په توګه سپارل کیږي
. په هرحال- دا په ساده ډول د پوهیدو وړ ده چي ملي ملکیت حکومت کولی شي د خلکو په مسقیمه او یا د استازو په مشوره او یا ګډو پریکړو په پایله کي وپلوري. پدغو پیسو کیدی شي د لومړیتوبونو په پام کي نیولو سره لویی لا ري، د انرژي اړتیاوي ، ښوونځي، روغتونونه ،د اوبو بندونه، ملي پارکونه، کرنیز فارمونه، په کوچنی ، منځنی او لویه کچه صنعتي فابریکي جوړي کړي .
د خلکو استازی حکومت مسول دی چي خلکو ته د هر پول روڼ حساب او ځواب ورکړي .
د طالبانو ډله او د دوی امارت د یوی پوځي -
سیاسي او مذهبي جوړښت ټولګه ده ، د اسلامي او بشري منل شویو قوانینو پر بنسټ دوی دا واک نه لري چي د افغانستان د ځلویښت ملیونو وګړو ملي شتمني لکه د ځمکي لاندي زیرمي ( معدنونه ) او د ځمکي په سر رواني او به وپلوري.
دوی ارګ ته د خلکو په رایه ندی ننوتلي دوی د ټوپک په زورپه یوه شپه کي ارګ قبضه کړی دی .

له پنځه ځلویښت کلنو جګړو وروسته افغانستان اساسي قانون ، د خلکو لخوا ټاکل شوی کلیوالي ، ولسوالی ، ولای تي او ملي شورا استازیتوب شتون نه لري.
اوسمهال د افغانستان وګړي له بي شمیره ټولنیزو- اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان دي.
دا ستونزی د عیني او ذهني مسلطو شرایطو په پام کي نیولو سره بنیادي حل ته اړتیا لري.

پنځه ځلویښت کاله جګړو ځپلی افغانستان د کوږ دننه سیاسي مشروعیت ،ملي ثبات او اقتصادي رغوني ته ضرو رت لري او په نړیواله کچه یو د خلکو لخوا منلی حکومت ته اړتیا لیدل کیږي .

غوره به داوی چي طالبان یو بي پلاوی د ملت ربښتیونو او خواخوږو افغان استازو ته چانس ورکړي چي د بیړنی لویي جرګي د جوړیدو لپاره د لارې نخښه ، میکانیزم او اجندا جوړه کړي.
د لویي جرګي په اجندا کي دوه عمده او اړین موضوعات تر بحث لاندي ونیول شي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

۱ .اساسي قانون
۲ . بې پلوه لنډ مهاله حکومت
راځئ دا ومنو چې د افغانستان موجوده پیچلی معادله دومره پراخه ، څو اړخیزه او ژوره ده چې حل یې د یو ناب غه واکمن او یوی ډلې له وسه پورته دی.
ددی معادلې د حل لپاره د ملت ټولنیز عقل او ټولنیز عمل کړنلاره اړینه ده .

افغانستان نوی لرلید ته اړتیا لري
افغانان د نوی سفر لپاره ګډ ملي لاربنود ته اړتیا لري

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزی بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ